Deputy PM for Economic Affairs Office

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# اباد

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**میاشتنۍ**

**۱۰ گڼه**

دریيم کال

۱۴۴۶ هـ ق - محرم الحرام



د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې ده او اوس مهال د برېښنا، کانونو، کرنې، صنعت، ترانسپورټ، زېربناوو، مخابراتو، روغتیا او برېښنايي حکومتولۍ ترڅنګ په ګڼو نورو سکټورونو کې کورني پانګوال او هغه بهرني هېوادونه د سرمایه ګذارۍ لپاره مراجعه کوي چې پخوا یې افغانستان ته زړه نه ښه کاوه.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

- بغلان ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر
- له قزاقستان څخه د افغانستان او ترکمنستان له لارې سویلي آسیا ته د رېل پټلۍ د نوې شبکې غځولو ارزښت ته کتنه
- **Exploring the Benefits of Extending a New Railway Network from Kazakhstan through Afghanistan and Turkmenistan to South Asia**


@FDPM_AFG

dpmea.gov.af

@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحيم

# ابادي

۱۰ گــڼـــه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
میاشتنۍ

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي او فضل ولي شیراني

**مسئول مدیر:** مولوي خالق‌داد تقي

**مرستیال:** احمدشاه راشد

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالیست:** سید عشرت رحمتي

**چاپ:** بهیر مطبعه



پته: مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

ټیلیفون: 0202107500

برېښنالیک: media@dpmea.gov.af

وېبپاڼه: dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سـرلـیـکـنـه ١

غــونـډې ٢ - ٩


اقتصادي پروژې ١٠ - ١٥

لیـدنـې او سفـرونـه ١٦ - ٢٧

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ٢٨- ٣٣

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پیغامونه ٣٤- ٣٨

انګلیسي برخه ٣٧ - ۴٥



# سرليکنه

په هېواد کې د سختو بارانونو اورېدو له امله په ډېرى ولايتونو کې سېلابونو هېوادوالو ته درانه ځاني او مالي تاوانونه واړول. ډېرى کورنۍ له خپلو کورونو بېځايه شوې، کرنيزې ځمکې يې تر اوبو لاندې شوې، ښوونځي، کلينيکونه، کانالونه، کاريزونه او څاګانې، پلونه، پلچکونه او سړکونه ويجاړ شول او هېوادوال د تګ راتګ پرمهال له ستونزو سره مخ شول. دا لومړى ځل نه دى چې د هېواد په مختلفو ولايتونو کې لکه په بغلان، غور، بدخشان، تخار، فارياب، ارزګان، دايکندي، باميان او نورو ولايتونو کې مو هېوادوال د سېلابونو له امله له داسې يو ناورين سره مخ کيږي، بلکې ددې ترڅنګ په تېرو کلونو کې هم ددې ډول طبيعي پېښو له امله هېوادوالو ته درانه مالي او ځاني زيانونه اوښتي دي. په هېواد کې د سېلابونو راوتلو يو لامل موسمي بدلون دى چې له امله د بارانونو په اورښت کې هم بدلون راغلى او دې کار د سېلابونو په څېر د طبيعي پيښو د وړاندوينې مخکني تدابير له ستونزو او ننګونو سره مخ کړي دي. مسوولې ادارې نه شي کولاى خپلو خلکو ته پر وخت معلومات ورکړي، آن د سېلابونو د را وتلو اټکل يې هم له ستونزو سره مخ کړى دى. سېلابونه يو ډول طبيعي پېښې دي چې په ټوله نړۍ کې راځي او پر ځان بسيا، د ودې په حال او وروسته پاتې هېوادونه ورسره مخامخ کيږي. يعنې په ټوله کې د طبيعي ناوړه پېښو له امله منځته راځي. هغه هېوادونه چې پر ځان بسيا دي کولاى شي تر يو حده د سېلابونو له امله اوښتو زيانونو د مخنيوي په برخه کې مخکې له مخکې رسېدنه وکړاى شي او په پايله کې د ځاني او مالي زيانونو کچه تر يو بريده راکمه کړي، يا هم هغه سيمې چې د سېلابونو له خطر سره مخامخ وي، د استنادي دېوالونو، ځنګلونو او آن د امکان په صورت کې د بندونو د جوړولو له لارې خوندي کړي. خو وروسته پاتې هېوادونه د طبيعي پېښو د مخنيوي لپاره مخکې له وخته د تدابيرو په نيولو او وروسته د مديريت په برخه کې له ستونزو سره مخ وي. د يادولو وړ ده چې په مطلق ډول د سېلابونو مخنيوى يو ناشونى کار دى، يوازې کېداى شي چې د اغېزو او زيانونو اندازه يې راکمه شي. په ټوله کې ځينې کړنې د سېلابونو د مخنيوي لپاره مخکې له وخته او د سېلابونو د راتلو پرمهال ترسره کېداى شي. ددې ټولو ستونزو او ناخوالو سره سره اسلامي امارت د طبيعي پېښو له امله د زيانونو راکمولو په برخه کې خپلې هڅې کړې دي. د ځنګلونو د پرې کولو مخنيوى، د استنادي دېوالونو جوړول، د واورو، بارانونو او سېلابونو د اوبو مهارولو په موخه د سترو، متوسطو او کوچنيو بندونو جوړول، په سېلابونو کې د زيانونو د مخنيوي لپاره د رسنيو له لارې د عامه پوهاوي پروګرامونو جوړول او د سېلابونو له امله د رامنځته شويو پېښو په وخت کې د عاجل عملياتي ټيمونو تنظيم هغه اقدامات دي چې اسلامي امارت د سېلابونو له امله رامنځته کېدونکو زيانونو د اغېزو کمولو په برخه کې ترسره کړي دي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۲مه نېټه بغلان ولايت ته د وروستيو سېلابونو له امله له زيانمن شوو هېوادوالو سره د مرستو، خواخوږۍ او د مرسته رسوونکو او ژغورونکو ادارو او بنسټونو ترمنځ د لا ښې همغږۍ رامنځته کولو په موخه سفر وکړ. محترم ملا صاحب د دې اووه ورځني سفر په لړ کې د بغلان ولايتي مسوولينو، پېښو ته د رسېدنې عالي امارتي کمېسيون اړوندو وزارتونو او ادارو له مسوولينو، د مرستندويه ادارو له استازو، په افغانستان کې مېشت د ملګرو ملتونو ادارو له استازو، د سېلاب ځپلو ولسواليو او سيمو له اوسېدونکو، علماوو، او متضرر شويو هېوادوالو او د بغلان ولايت د علماوو شورا له غړو سره وکتل او متضرره شوې سيمې يې له نږدې وکتلې.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د زيانمن شوو هېوادوالو حال له نږدې واخيست، له دوى سره يې پر نقدي مرستې سربېره ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت به يې د شته امکاناتو په درلودو سره تر هغه وخته پورې لاسنيوى کوي، تر څو د دوى ژوند عادي حالت ته را وګرځي. دا هغه څه دي چې يو مسوول حکومت يې ترسره کوي او اسلامي امارت دا کار له ځنډ پرته او پر وخت ترسره کړ. دا د افغان ولس له پاره بسنه کوي چې داسې يو حکومت او داسې ژمن مسوولين يې په برخه شوي دي چې په هر حالت کې د دوى په خوا کې ولاړ دي.



د اقتصادي او ملي تداركاتو کمېسيونونو، د پانگونې
بين الوزارتي او د اقتصادي کمېسيون تخنيکي کمېټو

# غونډې

# اقتصادي کمېسيون؛
# د سرو زرو د مؤقت صدور کړنلاره تائید شوه

د اقتصادي کمېسيون په نوبتي غونډه کې چې په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د سرو زرو د موقت صدور پر کړنــلارې، نویو متقاضیانو ته د نوري فايبر د ملي جوازونو پر ورکړې، په دولتي ادارو کې د اوســنیو څراغونو پر ځای د اېل اي ډي څراغونــو پر اســتفادې او یوشــمېر نورو اقتصادي موضوعاتو بحث وشــو. په غونډه کې چې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې وه، تر هراړخيز بحث وروسته د سرور زرو د موقت صدور کړنلاره تاييد شوه. د دې طرحې له مخې به د ټاکل شوو اصولو په رڼا کې د سرو زرو موقت صدور ترسره کېږي، چې له مخې به يې تر ډېره حده د قاچاق مخنیوی وشي.

د اقتصادي کمېســيون په دغه غونډه کې نويو متقاضيانــو ته د نوري فايبر د مــلي جوازونو د ورکړې پر موضوع هم بحث وشــو. تر هراړخيز بحث وروسته پرېکړه وشــوه، چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت اړوند د اترا اداره دې نويــو متقاضيانو ته د نوري فايبر ملي جوازونه د ملي ګټو پــه پام کــې نیولــو سره د نړيوالې داوطلبۍ له لارې ورکړي. په دې سره به د هېواد ټولو ســيمو ته د نوري فايبر شبکه وغځېږي او هېوادوالو ته به په ارزانه بيه او ښه کيفيت انټرنيټي خدمات وړاندې شي.

په دولتي ادارو کې د اوسنيو څراغونو پر ځای د اېل اي ډي څراغونو پر استفادې هم بحث وشو.

د اقتصادي کمېسيون د هدايت پر اساس ټولې دولتي اداري مکلفې وبلل شــوې، چې د شته څراغونو د اســتهلاک په صورت کې دې له اېل اي ډي څراغونو څخه استفاده وکړي او د برېښنا د ســپما لپاره دې په خپلو ادارو کې په دې اړه عامه پوهاوی زيات کړي، چې په پايله کې به يې په کلني ډول ميليونونه افغانۍ ســپما شي. په ټوله کې د اوبو او انرژۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د برېښنا د سپما په برخه کې اقتصادي تحليلونه ترسره کړي، حل لارې دې ولټوي او د تطبيق لپاره دې د بوديجې ترلاسه کولو په موخه ماليې وزارت ته ولېږي.







# ملي تدارکاتو کمېسیون

## د شاوخوا څلور میلیاردو افغانیو په ارزښت

# ۱۴ پروژې منظورې کړې



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د روان لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۱٦ مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم ۲۴ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې، چې له جملې یې د ۱۴ پروژو قراردادونه منظور، د شپږو تعدیل او د یوې پروژې قرارداد لغوه شو. همدا راز ملي تدارکاتو ریاست ته دنده وسپارل شوه، څو د یوې پروژې قرارداد بیاځلې ازادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي او د دوو پروژو قراردادونه بیا په هراړخیز ډول و ارزوي او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون له مشرتابه سره شریک کړي.

په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کابل – کندهار لویې لارې د اساسي بیارغونې د پاتې چارو بشپړول، په مختلفو ولایتونو کې د افغانستان برېښنا شرکت اړوند د برېښنايي وسایلو چمتو کول، د کابل ښار ځینو مهمو سړکونو اساسي جوړول او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.



# مــــرکـــــز تجـــارتـــی در

## سب استیشن نایب آباد بندر حیرتان اعمار می شود



در جلسـۀ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتـی کـه بتاریـخ اول جـوزا ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین تشکیل شده بود، جهت بحث طرح های سرمایه گذاری ساخت مرکز تجارتی با معیار های جهانی در سـب استیشن نایب آباد بندر حیرتان، اعمار مرکز تجارتی در شهر جلال آباد و شمار دیگری از موضوعات پیشـکش گردید. در این جلسه روی موضوع توسعه سب استیشن نایب آباد بندر حیرتان و احداث مرکز لوجستیکی در آن بحث و گفتگو همه جانبه صورت گرفت. همچنان پس از بحث و بررسی همه جانبه در جلسـه طرح احداث مارکیت تجارتی هفت طبقـه‌ای در زمیـن شـاروالی در منطقه دندخشـک شـهر جلال آباد تایید و برای منظوری به کمیسیون اقتصادی راجع شد. بر اساس این طرح، سکتور خصوصی با سرمایه گذاری ۲۶۹ میلیون افغانی مارکیت تجارتی هفت طبقه ای که مجموعا دارای ۵۰۶ دکان می باشد، اعمار خواهد کرد.



# د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه

## په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه

د اقتصــادي کمېســیون تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه، چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۱۷مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شــوې وه، له اجنډا سره ســم د یوشــمېر اقتصادي موضوعاتــو په اړه بحث وشــو. یادې غونډې ته د کورنیــو کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو څخه د ګټې اخیستنې کړنلارې مسوده او د کان کیندنې پروژو کې د کورنیو تولیداتو څخه د استفادې پالیسي د بحث لپاره وړاندې شوې وې.

په غونډه کې د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لــوري د کورنیو کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو څخه د ګټې اخیستنې کړنلارې پر وړاندې شوې مسوده هراړخیز بحث وشو. تر هراړخیزې ارزونې وروسته پرېکړه وشوه چې پــه یــاده کړنــلاره کــې دې د صنعت او ســوداګرۍ، اقتصاد او مالیــې وزارتونه او د ستینډرډ ملي اداره ورسره همکار شي او دغه مســوده دې د لا غني کېدو په موخه د نظر اخیســتلو لپاره د چارو اداري لوی ریاســت اړوند د تدارکاتو ریاست ته ولېږل شي.

همدارنګه د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د کان کیندنــې پروژو کې د کورنیو تولیداتو څخــه د اســتفادې په اړه د جوړې شــوې پالیســۍ د اصلاح او غني کولو په موخه د اقتصادي معاونیت د اقتصادي ریاســت په مشرۍ تاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شــوه، څو په دې اړه ګډې ناستې وکړي او اصلاح شوې پالیسي دې بېرته د اقتصادي کمېســیون د تخنیکي کمېټــې راتلونکې ناستې ته وړاندې کړي.





در مورد طرح ایجاد
# صندوق حمایت از انــرژی هــای تجدید پزیر
بحث شد

در جلسـۀ نوبتـی کمیته تخنیکی کمیسـیون اقتصادی که بتاریخ ۲۴ام ثور ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین تشکیل گردیده بود، روی طرح ایجاد صنـدوق حمایـت از انرژی های تجدیـد پذیر و تعدادی از موضوعات دیگر بحث شد. پس از بحث و تبـادل نظـر همه جانبـه در این جلسـه، به نمایندگان وزارت آب و انرژی وظیفه سپرده شد تا طرح ایجاد صندوق حمایت از انرژی های تجدید پذیر را بـا وزارت های مالیـه، اقتصاد، صنعت و تجارت، شرکت برشنا و اداره ملی حفاظت از محیط زیسـت شریک سازد. وزارت ها و ادارات یاد شده راه بدیل تمویل را جسـتجو و طرح اصلاح شده را برای تاییدی به کمیسیون اقتصادی ارائه نماید.





## تخنیکي کمېټې؛ د مسو د پروسس او ننګرهار او پکتیکا ولایتونو کې د لمریزې برېښنا د تولید پر طرحو بحث وشو

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه چې د روان لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۲۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم په سرپل ولایت کې د مسو د پروسس، د لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالۍ د سب سټېشن د پراختیا، په ننګرهار او پکتیکا ولایتونو کې په ترتیب سره د څلوېښت او لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید او د یو لړ نورو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

په غونډه کې تر هر اړخیز بحث وروسته د کانونو او پټرولیم وزارت ته دنده وسپارل شوه، چې د سرپل د بلخاب د مسو کان په اړه دې خپل معلومات له اقتصادي کمیسیون سره شریک کړي. دغه راز د خصوصي سکټور له لوري د لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالۍ د سب سټېشن د پراختیا، ننګرهار او پکتیکا ولایتونو کې په ترتیب سره د ۴۰ او ۱۰ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پر طرحو تر هر اړخیز بحث وروسته د اوبو او انرژۍ او د کانونو او پټرولیم وزارتونو او د امارتي شرکتونو رهبري پلاوي اړوند د افغانستان برېښنا شرکت ته دنده وسپارل شوه، چې د یادې پروژې په اړه د خپلو څېړنو راپور اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.



# اقتصادي کمېسيون؛ د سروبي دوهم بنـــد د جوړېدو او جوزجـــان کې د گازي برېښنا د تولید په اړه بحث وشو

د اقتصادي کمېسيون په نوبتي غونډه کې چـې په مرمرينه مانـۍ کې جوړه شوې وه، د کابل ولايت اړوند د سروبي دوهم بند د جوړېدو، په جوزجان ولايت کې د ۳۰۰ مېگاواټه گازي برېښـنا د توليـد، د کانونو او پټروليـم وزارت له لـوري د رغنيزو موادو پـه اړه د جوړې شوې مسودې او يوشمېر نورو اقتصادي موضوعاتو په اړه بحث وشـو. په غونډه کې چـې د رياسـتالوزراء اقتصادي مرسـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې وه، تر هراړخيز بحث وروسـته د اوبو او انرژۍ وزارت ته دنده وسـپارل شـوه، چې د اقتصادي کمېسـيون د نظرونو په پام کې نيولو سره دې د سروبي دوهم بند د جوړېدو پـه اړه له مختلفو شرکتونو سره تخنيکـي بحثونه تـرسره او راپور دې اقتصادي کمېسـيون ته وړاندې کړي. همدارنگه ياد وزارت ته لارښـوونه وشوه څـو په جوزجـان ولايت کـې د ۳۰۰ مېگاواټه گازي برېښـنا د توليد په اړه د کانونـو او پټروليـم وزارت په گډون د طرحې له وړاندې کوونکي شرکت سره تخنيکي بحثونه وکړي او خپل راپور دې اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي.

د اقتصادي کمېسـيون په دغه غونډه کـې د کانونو او پټروليم وزارت له لوري د رغنيزو موادو (شـگه، جغل او تهداب تيږه) په اړه د وړاندې شوې مسودې په اړه هـم بحـث وشــو. د مسـودې تر هراړخيزې ارزونې وروسـته د کانونو او پټروليم وزارت په مشرۍ د رغنيزو موادو په هوکړه ليک کې ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې د اقتصادي کمېسيون له لوري د راغلو تعديلاتو په نظر کې نيولو سره دې د يادې مسودې د لا غنـي کولو پـه موخه لـه اړوندو وزارتونـو او ادارو سره گډ مجلس ترسره او نهايي مسوده دې د منظورۍ لپاره د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی دفتر ته واستوي.





# اقتصادي
# پروژې

## امارت اسلامی به سرمایه گذاران داخلی و خارجی

# تسهیلات زیادی در زمینه سرمایه گذاری

## ایجاد کرده است

به منظور تسهیلات به سرمایه گذاران خارجی، مرکز واحد تمامی ادارات مربوطه در میدان هوایی کابل ایجاد شده است. این مرکز برای آنعده از سرمایه گذاران و تجاران خارجی که می خواهند در افغانستان سرمایه گذاری کنند و همچنان برای ارائه خدمات به متخصصینی که با سکتور خصوصی کشور همکاری می کنند، ایجاد گردیده است. وظیفه اصلی این مرکز تسهیلات برای سرمایه گذاران و تجاران خارجی در زمینه خدمات تخنیکی و تهیه ویزه می باشد. با افتتاح این مرکز صدها سرمایه گذاران و تجاران خارجی در مورد فرصت های سرمایه گذاری در افغانستان معلومات دریافت کرده اند. پس از آغاز فعالیت این مرکز، سرمایه گذاران و تجاران خارجی توانسته اند به زود ترین فرصت از طریق این مرکز ویزه خود را اخذ و فعالیت های مرتبط با سرمایه گذاری را انجام دهند.

سرمایه گذاران و تجاران خارجی پس از طی مراحل مقدماتی در این مرکز، طرح های سرمایه گذاری خود را به کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی زیر چتر معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ارائه می کنند. این طرح ها پس از ارزیابی تخنیکی، مالی، حقوقی و اقتصادی توسط کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی جهت منظوری به کمیسیون اقتصادی ارسال می شود. این کمیته تا اکنون به ارزش میلیاردها افغانی ده ها طرح سرمایه گذاری را ارزیابی کرده و کار عملی بعضی از این طرح‌ها اغاز گردیده است.

وظیفه کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی طی مراحل طرح های سرمایه گذاری داخلی و خارجی، سرعت و شفافیت در پروسه های سرمایه گذاری و ایجاد هماهنگی مؤثر بین سرمایه گذاران و ادارات ذیربط است.

قابل یاد آوری است که تا اکنون ده ها شرکت خارجی به دلیل به میان آمدن تسهیلات در بخش سرمایه گذاری جواز کار دریافت و در سکتورهای مختلف سرمایه گذاری کرده اند.





# د کرنې سکټور د میکانیزه کولو لپاره هڅې

کرنه د هېواد په اقتصادي ثبات کې رغنده رول لري او د اقتصادي ودې يو له مهمو فکتورونو څخه ګڼل کيږي. همدا لامل دی چې کرنه د هېواد د کورنيو توليداتو د ټوليز ارزښت درېيمه برخه جوړوي.

د هېواد ډېری برخه کاري ځواک پر کرنه بوخت او خپل عايد له دې سکټور څخه ترلاسه کوي.

د هېواد زياتره صادراتي اقلام کرنيز محصولات جوړوي، چې د ۱۴۰۲ لمريز کال پرمهال د شاوخوا دوو ميلياردو ډالرو په ارزښت د ترسره شويو صادراتو زياته برخه يې کرنيزو محصولاتو جوړوله.

اسلامي امارت هڅه کوي چې د مؤثرو او د وخت د ضرورت پر اساس جوړ شويو پلانونو په پلي کېدو سره د کرنې سکټور ميکانيزه کړي، چې په پايله کې به يې په ښه کيفيت او ډېر کميت سره کرنيز محصولات ترلاسه، هېوادوالو ته به د کار زمينه برابره، کورنۍ اړتيا به پوره او د صادراتو کچه به ورسره لوړه شي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کرنيزو محصولاتو په دېرشم پسرلني نندارتون کې په دې اړه وويل، د کرنې په سکټور کې شته نيمګړتياوو ته د رسېدو په پار د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سره مسلسل او نږدې کار کوي، او دوی يې هڅولي چې د کرنې د مېکانيزه کولو او د زراعتي ټيکنالوژۍ کارونې ته مخه کړي.

همداراز اقتصادي معاونيت د افغان متخصصينو په مرسته عملاً د هېواد د ملي پراختيا پر ستراتيژۍ کار روان کړی، چې د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله له منظورۍ وروسته به عملي او په وسيله به يې وتوانېږو د افغانستان کرنه ميکانيزه او هېواد به د صنعتي کېدو په لور سوق کړي.

همدارنګه په هېواد کې د کرنې په سکټور کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې له پاره خوندي چاپېريال برابر شوی او په دې برخه کې لا هم هڅې روانې دي. د اوبو مديريت لپاره عملاً کار پيل شوی، چې ښه مثال يې په دې وروستيو کې په هرات کې د پاشدان بند د نيمګړو کارونو پيلېدل دي.



Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# بند پاشدان؛
## گامی دیگر بسوی مدیریت آب

**افتتاح:**
محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء

**موقعیت:**
ولسوالی کرخ، ولایت هرات



**زمان افتتاح:**
۱۴۰۳ خورشیدی، نهم ثور

**ذخیره آب:**
۵۴ میلیون متر مکعب

**هزینه مجموعی:**
حدود ۹ میلیارد افغانی

**تمویل کننده پروژه:**
امارت اسلامی افغانستان

## فواید

- تولید دو میگاوات برق؛
- آبیاری ۱۳۰۰۰ هکتار زمین زراعتی؛
- مدیریت منابع آب؛
- کنترول و ذخیره آب سیلاب های موسمی؛
- ایجاد اشتغال برای هزاران نفر به صورت مستقیم و غیر مستقیم؛
- احداث کارخانه ها و مراکز تولیدی در مناطق همجوار؛
- حل مشکلات آب در منطقه و جلوگیری از بیجا شدن مردم.

# آسیای مرکزی و جنوبی
## با تمدید شبکه راه آهن جدید از طریق افغانستان
# با هم وصل می شوند

امارت اسلامی افغانستان متعهد به عملی ساختن پروژۀ تمدید شبکه راه آهن جدید از قزاقستان به آسیای جنوبی از طریق ترکمنستان و افغانستان است و در این زمینه با کشورهای ذیدخل آماده همکاری می باشد.

بتاریخ پنجم ثور ۱۴۰۳ خورشیدی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء با محترم سریک ژومانگارین معاون نخست وزیر قزاقستان و هیئت همراهش دیدار نمود.

در این دیدار در مورد تقویت روابط دوجانبه سیاسی و اقتصادی میان افغانستان و قزاقستان، تمدید شبکه راه آهن جدید از قزاقستان به آسیای جنوبی از طریق ترکمنستان و افغانستان، آغاز زودهنگام پروژه های بزرگ اقتصادی و همکاری های مشترک بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از جانب قزاق خواست تا به زود ترین فرصت کار مقدماتی شبکه راه آهن جدید به آسیای جنوبی از طریق ترکمنستان و افغانستان را آغاز نماید زیرا با عملی شدن این پروژه قزاقستان از طریق ترکمنستان و افغانستان به آسیای جنوبی و افغانستان علاوه بر آسیای میانه به روسیه، چین و بازارهای اروپایی وصل می شود.

با اجرای این پروژه اموال تجارتی با هزینه کم و در مدت زمان کوتاهی به محل مورد نظر ارسال می شود.

به همین ترتیب، با تطبیق پروژۀ راه آهن از طریق افغانستان، علاوه بر اتصال آسیای جنوبی و مرکزی، کوتاه ترین دهلیز ترانزیتی میان چین و اروپا ایجاد خواهد شد و در انتقال مواد معدنی به افغانستان نیز پیشرفت به وجود خواهد آمد. این پروژه برای ده ها هزار نفر فرصت های کاری فراهم می کند و همچنان تسهیلات زیادی در زمینه تجارت و ترانسپورت ایجاد می شود.



# صندوق حمایت از سکتور خصوصی افتتاح شد

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء بتاریخ ۱۷ام جوزا سال جاری خورشیدی صندوقی را که به منظور حمایت از سکتور خصوصی ایجاد شده بود، افتتاح نمود. در مراسمی که به همین منظور برگزار شده بود، محترم نورالدین عزیزی وزیر صنعت و تجارت، صنعتگران، تاجران و شماری از مسؤلین امارتی نیز حضور داشتند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء، ایجاد این صندوق را در راستای حمایت از سکتور خصوصی و ارائه تسهیلات لازم برای آنها مهم دانسته، گفت، در کنار حمایت از سکتور خصوصی، روند رشد و توسعه تجارت، ترانزیت، صنعت و تولیدات داخلی تسریع شده و فرصت های کاری برای شهروندان نیز فراهم خواهد شد.

محترم ملا صاحب افزود، حمایت از سکتور خصوصی، مهیا ساختن زمینه سرمایه گذاری برای سرمایه گذاران داخلی و خارجی و توسعه صنعت داخلی از اولویت های امارت اسلامی می باشند و به همین منظور از سوی عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله جرایم مالیاتی و مالیات ثابت اصناف و کسبه کاران را معاف و در بعضی از آنها تخفیف به وجوده آورده است. همچنان پرداخت تضمینات، تامینات و طلبات شرکت ها نیز آغاز گردیده است.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در مراسم افتتاحیه صندوق حمایت از سکتور خصوصی گفت که امارت اسلامی به منظور حمایت از تولیدات داخلی تعرفه گمرکی آنعده از اقلام وارداتی را افزایش داده که در داخل کشور تولید و پاسخگوی نیازمندی مردم می باشد.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در پایان از نمایندگان سکتور خصوصی خواست تا با توجه به معیارهای پذیرفته شده، فعالیت های خود را سریعتر و با کیفیت بهتر انجام دهند.


صندوق حمایت از سکتور خصوصی به منظور یافتن منابع مالی مطمئن برای اجرای پروژه ها، حمایت مالی از برنامه های مرتبط با معیاری سازی تولیدات داخلی، همکاری در راه اندازی نمایشگاه های ملی و بین المللی، احداث مراکز ویژه صادرات، حمایت مالی از برنامه های ملی و مؤثر در سکتور خصوصی و سایر بخش های سکتور خصوصی ایجاد گردیده که مورد استقبال گرم سکتور خصوصی قرار گرفت.





ليدني او

# سفرونه





# هیئت عالی رتبه امارت اسلامی
# در مراسم فاتحه خوانی
# رئیس جمهور فقید ایران اشتراک نمود

هیئت عالی رتبه امارت اسلامی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء که مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجه انرا همراهی می کرد بتاریخ دوم جوزا ۱۴۰۳ خورشیدی در مراسم فاتحه فقید سید ابراهیم رئیسی رئیس جمهور و حسین امیر عبداللهیان وزیر خارجه ایران اشتراک نمودند. هیئت امارت اسلامی با دکتور محمد مخبر سرپرست جمهوری اسلامی ایران، علی باقری سرپرست وزارت خارجه و معاون ارتش دیدار و به نماینده گی از مردم افغانستان و امارت اسلامی خود را در این غم شریک دانسته و مراتب تسلیت و همدردی را به مسؤلین حکومتی و مردم ایران ابراز داشتند.

### محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د کابل - جلال آباد دوهم لین سړک

### څخه لیدنه وکړه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۱مه نېټه د کابل - جلال آباد دوهم لین سړک څخه لیدنه وکړه. د دغه لیدنې پر مهال د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوي امیرخان متقي، د ټولګټو وزیر محترم ملا محمد عیسی ثاني، د کابل والي مولوي امین الله عبید او د ننګرهار والي ملا محمد نعیم اخوند هم حضور درلود.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل - جلال آباد دوهم لین سړک د هېواد له مهمو سوداګریزو لارو څخه یاد کړ او ویې ویل چې د کابل – جلال آباد پر لومړي سړک په ورځني ډول سلګونه باروړونکي او مسافر وړونکي موټر تګ راتګ کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، د کابل جلال آباد پر لومړي سړک د زیاتې ګڼې ګوڼې او ځینې وخت د غرښویېدنې له امله ترافیکي پېښې رامنځته کېږي، چې په پایله کې یې هېوادوالو ته ځاني او مالي زیانونه رسېږي. نو اړتیا ده چې د دغه سړک دوهم لین هم جوړ شي، څو ترافیکي پېښې راکمې، سوداګریز توکي په وخت انتقال او د هېوادوالو ژوند وژغورل شي.

په پای کې محترم ملا صاحب د دغې لارې اهمیت ته په کتو سره وویل چې د کابل – جلال آباد لویې لارې د دوهم لین سړک جوړولو پروژې د عملي چارو پیل یې په خپلو کاري لومړیتوبونو کې نیولی او د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له منظورۍ وروسته به یې کار پیل شي.



# بغـــلان تـــه سفر

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم مـلا عبدالغني بـرادر اخوند



محترم مـــلا عبدالغني برادر اخونـــد د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۲مه نېټه بغلان ولایت ته د وروستیو سېلابونو له امله له زیانمـــن شـــوو هېوادوالـــو سره د مرســـتو، خواخوږۍ او د مرسته رســـوونکو او ژغورونکو ادارو او بنســـټونو ترمنځ د لا ښـــې همغږۍ رامنځته کولو په موخه سفر وکړ.

محترم ملا صاحب د دې اووه ورځني سفر په لړ کې د بغلان ولایتي چارواکي، پېښـــو ته د رســـېدنې عالي امـــارتي کمېســـیون اړوندو وزارتونو او ادارو له مســـوولینو، د مرستندویه ادارو، په افغانستان کې مېشت د ملګرو ملتونو ادارو له استازو، د ســـېلاب ځپلو ولسوالیو او سیمو له اوسېدونکو او متضرر شویو هېوادوالو او د بغلان ولایت د علماوو شـــورا له غړو سره لیدنې درلودې. محترم ملا صاحب د مرکزي بغلان، نهرین، برکې او ګذرګاه نور ولسوالیو له سېلاب‌ځپلو ســـیمو څخه لیدنه وکړه په دې سربېره یې د نجات، روغتیا، د مرستو جلب او جذب، د مرســـتو توزیع او د تکفین او تدفین کمېټو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کولو په هدف له مسوولینو سره مجلسونه درلودل.

### پېښو ته د رسېدنې عالي امارتي کمېسیون ځانګړې غونډه

د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۲مه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم مـــلا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ پېښـــو ته د رســـېدنې عالي امـــارتي کمېســـیون غونـــډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شـــوه. په دغه غونډه کې د اړوندو وزارتونو او ادارو مسوولین راغونډتل شـــوي وو. تر بحث وروســـته د بغلان ولایت په ګذرګاه نور، مرکزي بغلان، برکې او نهرین ولســـوالیو کې هېوادوالو ته د ســـېلابونو له امله د اوښتو زیانونو د کچې معلومولو، هغوی ته د عاجلو مرســـتو رســـولو، د بنـــد پاتې هېوادوالو د ژغورلو، د نادرکه هېوادوالو د پیـــدا کولـــو او همدا راز د شـــهیدانو د تدفین او تکفین په موخه لاندې کمېټې وټاکل شوې:

**۱- د مرستو د جلب او جذب کمېټه:** یاده کمېټه د سرې میاشـــتې ټولنې په مـــشرۍ جوړه شـــوه، چې دنـــده یې د خوراکي توکـــو او البســـې راغونډول او زیانمنو سیمو ته رسول وو، چې پېښو ته

د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت يې غړيتوب درلود.

**۲- د مرســـتو د توزيـــع کمېټه:** دغه کمېټـــه د اقتصـــاد وزارت د مرســـتيال مولـــوي محمد عالم جميـــل په مشرۍ جوړه شـــوه، چې دنده يې د راټولو شويو مرســـتو وېش وو. د بغلان ولايت د مقام استازی، سرې مياشتې ټولنه، پېښنو ته د رســـيدو په چـــارو کـــې د دولـــت او د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارتونه يې غړي وو.

**۳- د نجات کمېټه:** دغه کمېټه د بغلان د والي مرســـتيال په مشرۍ جوړه شوه، چې دنده يې په سېلابونو کې د بند پاتې او نادرکه هېوادوالو ژغورل او موندل وو. د ملي دفـــاع، کورنيو چـــارو، ټولګټو او روغتيا وزارتونو يې غړيتوب درلود.

**۴- د روغتيـــا کمېټه:** دغـــه کمېټه د روغتيا وزارت په مشرۍ جوړه شوه، چې دنده يې د سېلابونو له امله ټپيان شويو هېوادوالـــو تـــه د روغتيايـــي خدمتونو وړاندې کول وو. د سرې مياشتې ټولنې يې غړيتوب درلود.

**۵- د تکفين او تدفيـــن کمېټه:** ياده کمېټه پېښنـــو ته د رسيدو په چارو کې د دولت وزارت په مشرۍ جوړه شـــوه، چې دنده يې د وروســـتيو سېلابونو له امله د شـــهيدانو تکفين او تدفيـــن و. د ملي دفاع، کورنيـــو چارو، روغتيـــا او ټولګټو وزارتونو يې غړيتوب درلود.

## د بغلان ولايت له مسوولينو سره ليدنه

د ۱۴۰۳ لمريز کال د ثور مياشـــتې په ۲۲مه نېټه د رياســـتالوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لـــه پلازمېنې کابل څخه حرکت وکړ او د شپې څه کم ۱۲ بجې د بغلان ولايت مرکز پلخمري ښـــار ته ورســـېد. پلخمري ته له رسېدو سره سم د ولايت مقام ته لاړ.

محترم مـــلا صاحب د ولايت مقام ته له رسېدو سره سم په لومړي سر کې ددغه ولايت د والي له مرســـتيال او يوشمير ولايتي مســـوولينو سره وکتل او له هغه څخه يې د شـــهيدانو، ټپيانو او نادرکه هېوادوالو او همدارنګه د تخريب شـــوو کورونو، مســـجدونو، مدرسو، ښوونځيو، تلف شـــوو څارويو، تخريب شوو کرنيزو ځمکو، باغونـــو، کاريزونـــو، کانالونو، سړکونو، پلونو او پلچکونو لومړني ارقام ترلاسه کړل. دا ارقام او په لومړي سر کې د ولايتي ادارو له لوري ترسره شوې مرســـتې، ســـېلاب‌ځپلو ســـيمو تـــه د ژغورونکو ټيمونو اســـتولو او همدا راز د موجودو ستونزو په اړه معلومات د شپې تر يوې نيمې بجې ترلاسه شول، خو اکتفاء پرې ونه شـــوه. په همدې موخه تصميم ونيول شـــو، چې ســـهار وختي له ټولو ولايتي رئيسانو سره مجلس ترسره شي.



## د بغلان ولايتي ادارو له رئيسانو سره ليدنه

د ۱۴۰۳ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۳مه نېټه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بغلان ولايت په مقام کې له ټولو اداري رئيسانو سره وکتل. د دغه ليدنې پر مهال د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له هر رئيس څخه په جلا جلا ډول د هغوی اړوند برخه کې د اوښتو تلفاتو او ترسره شوو مرستو په اړه د وروستيو ارقامو شريکولو غوښتنه وکړه. ټولو رئيسانو په نوبت سره په خپلو برخو کې د ترسره شوو مرستو، سېلاب‌ځپلو سيمو ته د استول شوو ژغورونکو ټيمونو او هېوادوالو ته د اوښتو زيانونو په اړه ارقام شريک کړل. خو پر دې هم اکتفاء ونه شوه.

د دقيقو ارقامو او اوښتو زيانونو د کچې معلومولو په موخه د هرې ولسوالۍ لپاره د ولايتي ادارو رئيسانو او د زيانمنو ولسواليو مسوولينو په مشرۍ جلا جلا کمېټې جوړې شوې. دوی ته هدايت وشو، چې سېلاب‌ځپلو سيمو ته لاړ شي او په دقيق ډول معلومه کړي، چې څومره هېوادوال شهيدان او ټپيان شوي او څومره لا تراوسه نادرکه دي. همدا راز دا هم معلومه کړي چې څومره کورونه په بشپړ ډول او څومره په نيمه ډول ويجاړ شوي او دغه راز په دې اړه دې معلومات راغونډ کړي چې څومره کرنيزې ځمکې، کانالونه، مسجدونه، مدرسې، روغتونونه، مکتبونه او لارې تخريب او څومره څاروي تلف شوي دي. يادې کمېټې په سمدستي ډول سېلاب ځپلو سيمو ته روانې شوې او په کار يې پيل وکړ.

## د سېلاب‌ځپلو سيمو له اوسېدونکو سره ليدنه

د ۱۴۰۳ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۳مه نېټه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ولايت له مقام څخه د مرکزي بغلان ولسوالۍ ته لاړ او هلته يې د مرکزي بغلان، برکې او نهرين ولسواليو علماوو، مشرانو، سپين‌ږيرو، زيانمنو شويو هېوادوالو او د يادو ولسواليو له مسوولينو سره وکتل.

د دغو ولسواليو مسوولينو او راغلو هېوادوالو د اوښتو زيانونو اندازه شريکه کړه او خپلې غوښتنې او ستونزې يې هم مطرح کړې.د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د دوی ستونزې او غوښتنې واورېدې او د ژر حل او مرستو رسولو ډاډ يې ورکړ. محترم ملا صاحب دوی ته اطمينان ورکړ، چې اسلامي امارت په خپل ټول توان د دوی مرسته کوي او په ډېر شفاف ډول به هر زيانمن شوي هېوادوال ته مرستې ورسېږي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د يادو ولسواليو له اوسېدونکو سره د ليدنې پر مهال وويل، هغو ولسواليو او سيمو ته به تر نورو لومړيتوب ورکړي چې هلته په زياته اندازه زيانونه اوښتي دي او له هغه وروسته به په ترتيب سره ټولو سيمو ته مرستې ورسوي.



## له نږدې څخه د سېلاب ځپلو سیمو لیدنه



د ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۴مه نېټه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د برکې ولسوالۍ سېلاب ځپلو سیمو ته سفر وکړ او هلته یې اوښتي زیانونه له نږدې وکتل. په دغه ولسوالۍ کې د ځاني او مالي زیان کچه لوړه وه، ځکه مرسته رسوونکو ټیمونو ته هدایت وشو، چې تر نورو سیمو مخکې برکې ولسوالۍ ته مرستې ورسوي.

د مرستو توزیع کوونکو کمېټو ته لارښوونه وشوه، چې په لومړي سر کې د شهیدانو کورنیو ته نغدي او خوراکي مرستې وویشي او په دوهم قدم کې هغو هېوادوالو ته مرستې ورسوي چې کورونه یې نړېدلي او څاروي یې تلف شوي دي.

## د همغږۍ ځانګړې کمېټه

د ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۴مه نېټه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ولایت په مقام کې د بغلان د والي د مرستیال په مشرۍ چې د دغه ولایت د علماوو شورا غړي یې هم برخه وال وو، د راټولو شوو مرستو د توزیع لپاره ځانګړې کمېټه جوړه کړه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال یادې کمېټې ته هدایت وکړ، چې سېلاب ځپلو سیمو ته د وروستیو ارقامو په موخه د لېږل شوو کمېټو له لوري د ارقامو له شریکولو وروسته دې په ډېر شفاف ډول راټولې شوې مرستې د اوښتي زیان کچې ته په کتو پر اړمنو هېوادوالو تقسیم کړي. دوی ته هدایت وشو، چې راټولې شوې مرستې په منظم ډول ترتیب او ژر تر ژره یې زیانمنو سیمو ته ولېږي.

په همدې ورځ د ولایت په مقام کې د سېلاب ځپلو سیمو اوسېدونکو ته د خوراکي توکو چې وریجې، ډوډۍ او د څښاک پاکې اوبه پکې شاملې وې، د رسولو ترتیب جوړ شو او د ورځې په جریان کې درې ځلې ورته رسول کېدلې.

د همدې ورځې په سهار د ټولګټو ریاست ته هدایت وشو، چې ټولو ولسوالیو او زیانمن شوو سیمو ته غځېدلې لارې او سړکونه چې د سېلابونو له امله بند شوي وو، ژر تر ژره خلاص کړي څو پرې یادو سیمو ته تګ راتګ اسانه شي. د الله تعالی په فضل سره دا کار ډېر په ښه ډول او په چټکۍ سره ترسره او ټولې بندې شوې لارې او سړکونه د مرسته رسوونکو او ژغورونکو ټیمونو پر مخ خلاص شول.

یادې کمېټې ته همدا راز لارښوونه وشوه، چې هېڅ خیریه بنسټ او موسسه په خپل سر د مرستو توزیع نشي کولی، هرڅوک چې مرستې کوي، دغه کمېټې سره په همغږۍ او د دغه کمېټې تر نظارت او مشرۍ لاندې به یې کوي.

## د بغلان ولایت د علماوو شورا له غړو سره لیدنه

د ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۴ مه نېټه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بغلان ولایت د علماوو شورا له غړو سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال د هغوی غوښتنې او ستونزې واورېدل شوې او د حل ډاډ ورکړل شو. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د علماوو شورا ته سپارښتنه وکړه، چې په دغه سخت وضعیت کې زیانمنو شوو هېوادوالو ته اطمینان او ډاډ ورکړي.

د علماوو شورا غړو ته دنده وسپارل شوه، چې زیانمنو شوو سیمو ته لاړ شي، هلته له سېلاب ځپلو هېوادوالو سره غم شریکي وکړي، د شهیدانو فاتحې واخلي او هېوادوالو ته حوصله او مورال ورکړي چې اسلامي امارت د دوی ترڅنګ ولاړ دی او په هر حالت کې یې خدمت کوي.

## د پلخمري ښار اړوند کرکر سېلاب ځپلې سیمې څخه لیدنه

د ثور میاشتې په ۲۵مه نېټه محترم ملا صاحب بغلان ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د پلخمري ښار اړوند کرکر سیلاب ځپلې سیمې ته سفر وکړ او هلته یې سېلاب ځپلي هېوادوال او هغوی ته اوښتي زیانونه له نږدې وکتل.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال یادې سیمې ته له رسېدو وروسته لومړی د شهیدانو روح ته دعا وکړه، زیانمن شوو هېوادوالو ته یې تسلیت وړاندې کړ او ځان یې د هغوی په غم کې شریک وباله. محترم ملا صاحب یادې سیمې ته له ځان سره لسګونه ټنه خوراکي توکي، درمل او البسه ولېږدول او پر دې سربېره یې له زیانمنو شویو هېوادوالو سره نغدي مرسته هم وکړه.

## د قطر هېواد د بشري مرستو له مسوول سره لیدنه

د روان لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۶ مه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قطر هېواد د بشري مرستو له مسوول مشعل الهاجري سره د بغلان ولایت په برکه ولسوالۍ کې وکتل. ددغه لیدنې پر مهال د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرستیال او د اقتصاد وزارت مرستیال مولوي محمد عالم جمیل هم حضور درلود. محترم ملا صاحب د بغلان له سېلاب ځپلو سره د قطر هېواد له بشري مرستو مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې دا ډول همکارۍ د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې لا پراخې او پیاوړې کوي. د بشري مرستو لپاره د قطر هېواد مسوول د وروستیو سېلابونو له امله له زیانمنو شویو افغانانو سره خواخوږي څرګنده کړه او ویې ویل، چې دوی د ښه نیت له مخې خپلې مرستې افغانستان ته را استولې، چې تر یوه حده به د اړمنو افغانانو ستونزې پرې حل شي.

## له مرکزي بغلان، نهرین او برکې ولسوالیو څخه لیدنه

د ثور میاشتې په ۲۶مه نېټه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند بغلان ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د مرکزي بغلان، نهرین او برکې ولسوالیو ته سفر وکړ او هلته یې له سېلاب ځپلو هېوادوالو سره له نږدې ولیدل.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له سېلاب ځپلو هېوادوالو سره د لیدنې پر مهال وویل، د سروې ټیمونو له لوري د شهیدانو دقیق ارقام راټول او د هر شهید کورنۍ ته سل زره افغانۍ نغدي مرسته، خوراکي توکي او البسه ووېشل شول او همدا راز د ټیپانو درملنه هم وشوه. محترم ملا صاحب زیاته کړه د سروې ټیمونو د تخریب شوو کورونو، کرنیزو ځمکو، اوبو کانالونو، کاریزونو او همدا

راز تلف شوو څارویو سروې پيل کړه، چې له بشپړېدو وروسته به په يادو برخو کې د اسلامي امارت له لوري له زيانمنو کورنيـو سره هراړخيزې مرسـتې وشي. پر بغـلان سربېره بدخشـان، فاريـاب، تخار، غور او نورو ولايتونو کې هم سېلاب ځپلو تـه نغـدي، خوراکـي توکـي او د البسـې مرستې لېږل شوې دي.

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د برکې ولسوالۍ له علماوو سره وکتل

محـترم مـلا صاحـب د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۷مه نېټه د بغلان ولايـت برکې ولسـوالۍ ته د خپل سـفر په تـرڅ کې د يادې ولسـوالۍ له علماوو سره وکتـل. د دغـه ليدنـې پـر مهـال د برکـې ولسـوالۍ علـماوو پـه وخـت سره د پېښـو سيمو ته د ژغورونکو ټيمونو او بېړنيو مرسـتو د لېږلـو لـه امله له اسـلامي امارت څخـه منـنـه وکړه او په ځينـو برخو کې يې موجودې سـتونزې او غوښـتنې د رياسـت الوزراء له اقتصادي مرستيال سره شريکې کـړې، چـې محترم ملا صاحـب يې د حل ډاډ ورکړ. محترم ملا صاحب زياته کړه په ټولو زيانمن شوو سيمو کې د مرستو د وېـش لړۍ لا هم جريان لري، چې تر دې مهاله زرګونو هېوادوالو ته پر نغدي مرستو سربېـره د خوراکـي توکو، درملو او البسـې مرسـتې رسېدلې دي او دا لړۍ به تر هغه وخته پورې دوام ولري تر څو د سېلابونو له املـه د زيانمنو هېوادوالو سـتونزې تر يوې کچې حل شي.



## د ملګرو ملتونو د ادارو له مسوولینو سره لیدنه



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ثور میاشتې په ۲۸مه نېټه د بغلان ولایت په مقام کې په افغانستان کې مېشت د ملګرو ملتونو بېلابېلو ادارو له مسوولینو سره وکتل. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په بغلان کې د وروستیو سېلابونو له امله د اوښتو زیانونو کچه لوړه وبلله او د دغو ادارو له استازو څخه یې وغوښتل، څو له اسلامي امارت سره په همغږۍ د بغلان له سېلاب ځپلو سره د بشري مرستو ترڅنګ په پراختیایي برخو کې خپلې مرستې زیاتې او چټکې کړي. د محترم ملا صاحب په خبره، د وروستیو سېلابونو له امله د بغلان ولایت په سېلاب‌ځپلو ولسوالیو کې ۱۸۰ کسان شهیدان، ۵۲ ټپیان، ۳۱۷۹ د هستوګنې کورونه تخریب، ۶۸۹۱ څاروي تلف او همدراز ۱۹ روغتونونه، ۱۹ ښوونځي، ۱۱۵ پلچکونه، لسګونه د اوبو لوی او کوچني کانالونه او ۶۰ کیلومتره سړک تخریب شوي، چې اساسي بیارغونې او پاک کارۍ ته اړتیا لري. په افغانستان کې مېشت د ملګرو ملتونو د ادارو استازو د بغلان له سېلاب ځپلو سره خپله خواخوږي څرګنده کړه او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ته یې پر بشري مرستو سربېره په پراختیایي برخو کې هم د مرستو او همکارۍ ډاډ ورکړ. دوی پر وخت د پېښو سیمو ته د اسلامي امارت د ژغورونکو ټیمونو د رسېدو ستاینه وکړه، چې په سېلاب کې بند پاتې کسان یې وژغورل. محترم ملا صاحب پر ټولو نړیوالو مرستندویه ادارو غږ وکړ، چې په دغه سخت وضعیت کې دې د سېلاب ځپلو افغانانو لاسنیوی وکړي.

## کابل ته راستنېدنه

بغلان ولایت ته له خپل اووه ورځني سفر وروسته د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۸مه نېټه کابل ته راستون شو.








# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند
## با معاون وزیر امور خارجه قطر دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء سوم جوزا ۱۴۰۳ خورشیدی با محمد بن عبدالعزیز آلخلیفی معاون وزیر امور خارجه قطر در دفتر کارش دیدار و گفتگو نمود. در این دیدار هر دو طرف روی روابط سیاسی، اقتصادی و تجارتی بحث نمودند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء از همکاری قطر با افغانستان در زمینه های گوناگون سپاسگزاری نموده گفت که این روابط هر چه بیشتر گسترش و تقویت یابد. محترم ملا صاحب افزود که در حال حاضر فرصت های سرمایه گذاری در افغانستان وجود دارد و سرمایه گذاران قطری می توانند در اینجا در بخش های مختلف سرمایه گذاری نمایند. به گفته محترم ملا صاحب، امارت اسلامی تسهیلات لازم را برای سرمایه گذاران خارجی مهیا و به طور کامل از آنها حمایت می کند.

معاون وزیر امور خارجه قطر طی سخنانی خویش گفت، آنها سرمایه گذاران این کشور را به سرمایه گذاری در افغانستان تشویق خواهند کرد و به همین منظور سرمایه گذاران قطری در آینده نزدیک به کابل خواهند آمد.

محمد بن عبدالعزیز الخلیفی افزود، آنها با شرکت های هوایی بین المللی قطر از نزدیک کار می کند تا طبق یک میکانیزم منظم پروازهای خویش را به افغانستان آغاز و تقویت روابط تجارتی میان دو کشور افزایش دهند.

وی خواستار شرکت نماینده امارت اسلامی در سومین نشست نمایندگان ویژه افغانستان در دوحه شد و افزود، قطر علاقمند است که در حضور داشت نماینده امارت اسلامی سومین نشست دوحه به نتیجه مطلوب خواهد رسید. وی افزود که بدون نماینده امارت اسلامی چنین جلساتی بی نتیجه بوده و در این زمینه موقف خود را به سازمان ملل متحد روشن نموده است.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت، امارت اسلامی خواستار روابط گسترده سیاسی- اقتصادی با همه کشورها است و با اتخاذ این سیاست به تعامل دوجانبه رو آورده است. محترم ملا صاحب تاکید نمود که بدون نماینده امارت اسلامی نشست سوم دوحه در مورد افغانستان به هیچ نتیجه ای نمی رسد. بنابراین لازم است در این گونه جلسات به موقف امارت اسلامی احترام گذاشته شود.

# معاون اقتصادی ریاست الوزراء با **رئیس هلال احمر اندونیزیا** و هیأت همراهش دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء ۱۶ام جوزا سال روان خورشیدی در دفتر کارش با محترم محمد یوسف کالا رئیس هلال احمر و شورای مساجد اندونیزیا دیدار نمود

در این دیدار هر دو طرف در مورد روابط سیاسی، اقتصادی، تجارتی و توسعه روابط دو جانبه میان ملت های دو کشور بحث و تبادل نظر کردند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت که افغانستان و اندونیزیا در طول تاریخ روابط خوبی داشته اند و اکنون زمینه بهتری برای توسعه این روابط مهیا گردیده و هر دو کشور باید برای تقویت روابط خویش با یکدیگر همکاری مشترک نمایند.

محترم ملا صاحب افزود که با تامین امنیت سرتاسری در افغانستان، فرصت های سرمایه گذاری خوبی در بخش انرژی، معادن، بندهای آبی، زیربناها، صنعت و سایر زمینه ها ایجاد شده و سرمایه گذاران اندونیزیایی می توانند در این زمینه سرمایه گذاری کنند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت، امارت اسلامی تسهیلات لازم را برای سرمایه گذاران ایجاد کرده و از هیچ نوع همکاری در این زمینه دریغ نه خواهند ورزید.

محترم محمد یوسف کالا رئیس هلال احمر و شورای مساجد اندونیزیا، پیشرفت های به وجود آمده در افغانستان را ستایش نموده افزود که این وضعیت واقعی افغانستان را به دولت، مردم اندونیزیا و جهان به تصویر خواهد کشید.

وی گفت که اندونیزیا خواهان گسترش روابط خود با افغانستان در زمینه های مختلف است و سرمایه گذاران اندونیزیایی تمایل به سرمایه گذاری در معادن افغانستان دارند. محترم محمد یوسف کالا افزود که در آینده نزدیک هیأت اقتصادی اندونیزیایی برای سرمایه گذاری در معادن افغانستان به کابل می آیند و در مورد همکاری های مشترک اقتصادی در زمینه های مختلف با طرف افغان گفتگو خواهند کرد.

در پایان، هر دو طرف بر توسعه روابط افغانستان و اندونیزیا در زمینه های سیاسی، اقتصادی، تجارتی و آموزشی تاکید کردند.





# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند

# له قزاقستان څخه د افغانستان او ترکمنستان له لارې
# سویلي آسیا ته د رېل پټلۍ
# د نوې شبکې غځولو ارزښت ته کتنه

**لیکوال:** فضل ولي شیراني

د ریل پټلۍ دغه نوې شبکه د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه سویلي آسیا ته غځول کېږي. په دې لیکنه کې د افغانستان او قزاقستان ترمنځ اړیکو او د نوې شبکې د غځولو ارزښت ته کتنه شوې.



## مقدمه

افغانستان په سیمه کې د خپل جغرافیایي موقعیت له امله د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې زیات اقتصادي فرصتونه لري، ځکه دا هېواد د مرکزي آسیا او سویلي آسیا ترمنځ د پل حیثیت لري؛ خو په هېواد کې دوامداره سیاسي او امنیتي بې ثباتي د دې لامل شوې وه، چې له ګاونډیو هېوادونو سره په اقتصاد، سوداګرۍ او ترانزیټ برخو کې تل ستونزې موجودې وې. د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې سرتاسري امنیت ټینګ شوی دی. امنیتي ثبات د سوداګرۍ او اقتصادي فعالیتونو په برخه کې تر ټولو مهم شرط دی. د سیمې او ګاونډي هېوادونه کولای شي له دغه وضعیت څخه مثبته ګټه واخلي. په دې برخه کې یوازې افغانستان نه بلکې د سیمې هېوادونه کولای شي چې خپلو تولیداتو او محصولاتو ته مارکېټ پیدا او له دې پلوه خپل اقتصادي فعالیتونه ګړندي کړي. ددې هېوادونو له جملې څخه یو هم قزاقستان دی. قزاقستان د منځنۍ اسیا د شتمنو هېوادونو له جملې څخه دی چې د تېلو او ګازو لویې زېرمې لري او د غنمو لوی تولیدونکی هېواد دی او د کرنې سکټور کې ښه تجربه لري. که چېرې قزاقستان غواړي خپل ګاز او تېل چې د آسیا یو شمېر هېوادونه ورته سخته اړتیا لري، ولیږدوي نو افغانستان د مرکزي آسیا او سویلي آسیا ترمنځ تر ټولو لنډه او ډاډمنه لار ده.

خو هغه هېوادونه چې بحر ته لار نه لري، تر ټولو ارزانه ترانسپورټ بیا د رېل پټلۍ دی. اوسمهال افغانستان د منځنۍ آسیا او ایران سره د رېل پټلۍ له لارې نښلول شوی دی. ولې پر دې بسنه نه ده شوې او افغانستان هڅه کوي خپله د رېل پټلۍ شبکه نوره هم پراخه کړي، څو وکولای شي د سیمې او ګاونډیو هېوادونو د رېل پټلۍ له لارې خپل تولیدات او محصولات نړیوالو بازارونو ته ورسوي. په دې برخه کې یې هڅې پیل کړې دي او ددې هڅو ښه بېلګه یې د افغان- ټرانس ریل پټلۍ شبکه ده چې ازبیکستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته غځول کېږي او په دې برخه کې پرمختګونه هم شوي دي. په دې وروستیو کې د قزاقستان د لومړي وزیر د مرستیال په مشرۍ راغلي پلاوي د افغانستان او قزاقستان د اوسپنې پټلۍ د نوې شبکې پر غځولو د اسلامي امارت له مسوولینو سره خبرې وکړې. د ریل پټلۍ دغه نوې شبکه د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه سویلي آسیا ته غځول کېږي. په دې لیکنه کې به د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اړیکو او د نوې شبکې د غځولو ارزښت ته کتنه وکړو.



## د افغانستان او قزاقستان ترمنځ اړيکې

د افغانستان او مرکزي اسيا هېوادونو ترمنځ اقتصادي فرصتونه د اړيکو د پراختيا لپاره زمينه برابروي. لکه څنګه چې افغانستان غواړي د خپل جغرافيايي موقيعت له نظره د آسيا د ارتباطي پله په څېر رول ترسره کړي او د خپلو کانې توکو، کرنيزو محصولاتو او صنعتي توليداتو له پاره مارکېټ پيدا کړي، دغه راز د مرکزي آسيا هېوادونه چې نږدې څلور مېليونه کيلومتر مربع خاوره احاطه کوي، د نفتو، ګازو، اوسپنې، مسو، سرو زرو، سربو، يورانيمو، المونيم، قيمتي ډبرو او دېته ورته نورې طبيعي زېرمې لري، غواړي خپل دا توکي هغو هېوادونو ته ورسوي چې هغه ورته اړتيا لري. ددې له پاره چې ياد هېوادونه له شته فرصتونو څخه ګټه پورته کړي، نو په کار ده چې خپل منځني اړيکې پراخې او غښتلې کړي. ددې اړيکو په سر کې سياسي اړيکې راځي چې په ټينګېدو سره يې اقتصادي اړيکو ته لار هوارېږي.

د مرکزي آسيا په تېره بيا قزاقستان هېواد هم هڅه کوي چې له افغانستان سره خپلې اړيکې پراخې او غښتلې کړي. په همدې لړ کې ددې هېواد بېلا بېل پلاوي افغانستان ته راغلي دي. د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د ثور مياشتې په پنځمه د ياد هېواد د لومړي وزير د مرستيال سريک ژومانګارين په مشرۍ پلاوی کابل ته راغی او دلته يې د رياست الوزراء له اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره وکتل. په دې کتنه کې د دواړو لورو ترمنځ پر سياسي، اقتصادي، سوداګريزو، د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته اوسپنې پټلۍ نوې شبکې غځولو او ترانزيټي مسايلو په اړه خبرې وشوې. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د افغانستان او قزاقستان اړيکو ته په اشارې سره وويل، واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د دې فرصت رامنځته شو، چې د دواړو لورو ترمنځ سياسي او اقتصادي اړيکې لا ټينګې او پياوړې شي. محترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې زياتېدو په موخه په هرات ولايت کې د قزاقستان د سوداګرۍ خونې پرانيستل، افغان – ټرانس پروژه کې د پانګونې لپاره د دغه هېواد لېوالتيا او همدارنګه له هغو تحريم شوو ګروپونو څخه د اسلامي امارت ايستل چې دغه هېواد په خپله خاوره کې پرې بنديز لګولی و؛ مهم او اساسي ګامونه ياد کړل. په دې ليدنه کې د قزاقستان لومړي وزير مرستيال سريک ژومانګارين وويل، که چېرې د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته د اوسپنې پټلۍ نوې شبکه وغځول شي، دا به د نورو پروژو په پرتله لنډه او د ښکېلو هېوادونو لپاره اقتصادي تمامه شي او وبه کولای شي، چې د مرکزي آسيا هېوادونه د افغانستان له لارې سويلي آسيا او افغانستان به د ترکمنستان او قزاقستان له لارې له چين او اروپا سره ونښلوي.


دا ددې ښکارندويي کوي چې قزاقستان غواړي د سياسي اړيکو ترڅنګ اقتصادي اړيکې پراخې کړي.



نو څکه خوښېږي د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته د اوسپنې پټلۍ نوې شبکې غځولو وړاندیز وکړ، ددې ریل پټلۍ په غځولو سره به قزاقستان د خپلو تولیداتو له پاره تر ټولو لنډه لار پیدا او سوداګري به یې پراختیا ومومي.

## د اوسپنې پټلۍ د نوې شبکې غځولو ارزښت

افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې په وچه کې ایسار او سمندر ته لار نه لري. په نړۍ کې په ځانګړي ډول آسیا کې هغه هېوادونه چې په وچه کې پراته دي، تر ټولو غوره، خوندي او ارزانه ترانسپورټ یې د اوسپنې پټلۍ ترانسپورټ دی. بله دا چې د چټکې سوداګرۍ د ودې لپاره کولای شو د رېل پټلۍ له لارې د سیمې او نړۍ ګڼو سوداګریزو مارکېټونو ته ځان ورسوو او پرته له دې موږ نه شو کولای د سیمه ییز اتصال تر عنوان لاندې د سیمې او نړۍ له سترو اقتصادي او سوداګریزو بازارونو سره وصل شو؛ نو همدې اصل ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت د نورو سکټورونو ترڅنګ د رېل پټلۍ برخې ته پوره پام ور اړولی دی او په دې برخه کې یې ځینې پروژې پلې او د ځینو له پاره یې پلانونه چمتو کړي دي. کله چې د رېل پټلۍ له لارې افغانستان د سیمې او بیا له نړۍ سره ونښلول شي، نو له دې سره به د افغانستان سوداګري پراختیا وکړي او ترڅنګ به یې اقتصادي وده رامنځته شي. دغه راز د آسیا هغه هېوادونه چې په وچه کې پراته دي هغه هم د ریل پټلۍ شبکې له لارې کولای شي خپل تولیدات د آسیا نورو هېوادونو او نړیوالو مارکېټونو پورې ورسوي. اوس چې د قزاقستان له لوري د افغانستان او ترکمنستان له لارې سویلي آسیا ته د اوسپنې پټلۍ د نوې شبکې غځولو وړاندیز شوی، که چیرې دا پروژه عملي شي، نو له شک پرته چې له یوې خوا به افغانستان له دې لارې د سیمې د یو شمېر هېوادونو له ترانسپورټي دهلیزونو سره ونښلي او له بلې خوا به قزاقستان هم سویلي اسیا ته لار پیدا کړي او خپل تولیدات او تېل به په ارزانه او لنډه لار تر دغو هېوادونو پورې ورسوي. دا کولای شي د دواړو هېوادونو پر اقتصادي وده مثبته اغېزه وکړي او سوداګري یې پراختیا پیدا کړي.



## پایله

افغانستان ته د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره تړل ډېر ارزښت لري. همدې اصل ته په کتو اسلامي امارت غواړي چې د ځمکې له لارې د سیمې او نړۍ هېوادونو سره خپلې سوداګریزې اړیکې پراخې کړي. د ځمکني ترانسپورټ په برخه کې له سمندري لارې راوروسته ډاډمنه او ارزانه لار د اوسپنې پټلۍ ده. دغه ډول ترانسپورټ نه یوازې افغانستان بلکې د آسیا نورو هغو هېوادونو ته هم ارزښت لري چې مخامخ اوبو ته لار نه لري. په همدې موخه اسلامي امارت له ګاونډیو هېوادونو سره د خپلې راکړې ورکړې له پاره د رېل پټلۍ د جوړولو په برخه کې هلې ځلې پیل کړې دي. کومې رېل پټلۍ چې پخوا جوړې شوې وې او بیا د ځینو ستونزو له امله ترې ګټه نه پورته کېده او یا یې چارې نیمګړې پاتې وې، هغه ټولې یې تقریبا بېرته فعالې کړې دي. ددې خبرې ښه ثبوت د خواف-هرات ریل پټلۍ ده، چې د ځلورمې قطعې د دوهمې برخې چارې څه وخت مخکې عملاً پیل شوې. اوس که د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه سویلي آسیا ته د اوسپنې پټلۍ نوې شبکه وغځول شي، په دې سره به افغانستان او قزاقستان وکولای شي خپل ترانزیټ او سوداګري پراخه کړي او پر مټ به یې ددې هېوادونو اقتصاد پیاوړی شي. دواړه هېوادونه به د خپلو سوداګریزو او صنعتي توکو له پاره په آسیا کې دننه او د نړۍ په نورو هېوادونو کې بازار پیدا او دغه دواړه برخې به په بشپړ ډول پرمختګ وکړي.






د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال

# الحاج ملا عبد الغني برادر اخوند

# پيغامونه



د اسـلامي امارت زعيـم عاليقدر امير المؤمنين شيخ صاحب حفظه الله تعالی د اسلامي امارت مسـوولينو ته هدايت کړی چې د هغو هېوادوالو لاسنيوی دې وکړي چې په دې وروستيو سېلابونو کې يې ځاني او مالي زيانونه ليدلي دي.



له خصوصي سـکټور څخـه د ملاتړ صنـدوق هدف د پـروژو د پلي کېدو لپاره د ډاډمنې مـالي سرچينې پيدا کول، د کورنيـو توليداتو معياري کولو اړوند پروګرامونو مالي ملاتړ، د ملي او نړيوالـو نندارتونونـو پـه جوړولو کې همکاري، د صادراتو لپـاره د ځانګړو مرکزونو جوړول، د خصوصي سکټور د ملي او مؤثرو پروګرامونو او د خصوصي سکټور د نورو برخو مالي ملاتړ دی.



نندارتونونه د محصولاتو د معرفي کېدو ترڅنګ د سوداګری د غوړېدو او ودې لـه پاره تر ټولو غـوره لار ده او له دې لارې کولای شـو محصولات خلکو ته وړاندې او پانګوال وهڅوو چې په دې برخه کې پانګونه وکړي.

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال

# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

## پيغامونه

اسلامي امارت د هېواد په مختلفو برخو کې د ملي پروژو عملي چارې پيل کړې دي، چې له جملې يې يوه هم د ختيـځ ــ لويديځ دهلېز سـړک د جوړونې پـروژه ده، چې د ځمکنې ټرانسـپورټ لـه لارې هرات، غـور، باميان، دايکندي او ميدان وردګ ولايتونه له کابل سره نښلوي. د دغه دهلېز د يوې برخې چې هغه د هرات - غور سـړک دی، د عملي چارو د پيل پرانيسته وشوه، اسلامي امارت په هره برخه کې د ولس ستونزو ته متوجه دی او پر وخت به ټولو ته رسېدګي وشي.



اسلامي امارت قوي هوډ لري چې په هېـواد کې د کرنې سـکټور ته وده ورکړي، کرنيز محصولات زيات کړي تر څـو د ملي اقتصاد پـه وده کې رغنده رول ولوبوي.




د ټرانزيټي لارو متنـوع کول، د زراعتي بانک جوړول، د کرنې سـکټور ماشيني کول، کرنيزو محصولاتو ته په کور دننه او بهر کـې مارکېټ پيدا کـول، د کرنيزو محصولاتو کيفيت لوړول، د سـړو خونو جـوړول، په ملي بوديجـه کې د کرنې سـکټور ته زياته توجه کـول او بهرنۍ پانګونه هغه موضوعات دي چې اسلامي امـارت يې د ترسره کېـدو په برخه کې عملاً کوټلي ګامونه اخيستي دي.





امارت اسلامی حمایت از سکتور خصوصی، فراهم کردن زمینه سرمایه گذاری برای سرمایه گذاران داخلی و خارجی و اولویت دادن به توسعه صنعت داخلی را مکلفیت خود میداند.



امارت اسلامی رشد اقتصادی پایدار، ایجاد فرصت های کاری جدید، حمایت کامل از سکتور خصوصی و رفع موانع در برابر فعالیت های قانونی و همچنان ایجاد تسهیلات لازم را در زمینه های تجارت و ترانزیت و اقدامات اساسی برای حمایت از این سکتور انجام داده که نمونه بارز آن افتتاح صندوق حمایت از سکتور خصوصی می باشد.



نقش زراعت در رشد اقتصادی کشورهای زراعتی واضح است، از این رو امارت اسلامی با اولویت دادن به سکتور زراعت علاوه بر حرکت به سمت صنعت، به مدیریت آب نیز توجه داشته و در راستای مدیریت آب و استفاده از حق مشروع خود پروژه های بزرگ آبی را در کشور آغاز کرده است.

# پیام های
# الحاج ملا عبدالغنی برادر اخند
## معاون اقتصادی ریاست الوزراء

با همکاری کارشناسان افغان، معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء عملاً کار روی استراتژی انکشاف ملی کشور را آغاز کرده که پس از تائید عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی عملی و با آن می توانیم زراعت افغانستان را مکانیزه و کشور را به سمت صنعتی شدن سوق دهیم.



سرمایه گذاری در محصولات زراعتی و تولیدات صنعتی بدون شک رشد اقتصادی کشور را به همراه دارد و پیشرفت را به وجود می آورد. امارت اسلامی به همین منظور سلسله نمایشگاه های داخلی و خارجی را برای معرفی تولیدات صنعتی و محصولات زراعتی افغانستان راه اندازی کرده است.



جرایم مالیاتی از سوی عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی معاف، مالیات ثابت اصناف و کسبه کاران معاف و تخفیف داده شده و اجراء تضمینات، تامینات و طلبات شرکت ها آغاز شده که در راستای حمایت از سکتور خصوصی گام های مهمی هستند



Deputy PM for Economic Affairs,

Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund's

# MESSAGES




Exhibitions are organized to showcase a country's industrial and agricultural products. Governments strive to create these events to identify markets for their products both domestically and internationally.

With the re-establishment of the Islamic Emirate, favorable conditions have been created for investment in the country. Currently, sectors such as electricity, mining, agriculture, industry, transport, infrastructure, telecommunications, health, and the printing of passports and ID cards are attracting domestic investors as well as foreign countries that previously did not consider Afghanistan for investment.





To support the private sector, the Islamic Emirate has increased customs tariffs on imported items that are produced domestically and can meet the needs of the population.


Deputy PM for Economic Affairs,

Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund's

# MESSAGES

Agriculture and livestock are pivotal to the country's economy, serving as key drivers of economic growth. They contribute significantly to exports, play a crucial role in poverty reduction, generate employment opportunities, supply raw materials to various industries, ensure food security, and account for one-third of the gross domestic product.





The officials of the Islamic Emirate have diligently provided timely aid to the citizens affected by the floods, promptly reaching out to the victims as instructed by His Excellency, Amir Ul Mo'mineen Sheikh Hibatullah Akhundzadah.

The establishment of a support fund from the private sector aims to foster the growth and development of trade, transit, industry, and domestic production. Additionally, it will help reduce the unemployment rate.



The Islamic Emirate Has Established Numerous Facilities to Support
# Domestic and Foreign Investors

The Islamic Emirate has introduced numerous facilities to attract and support both domestic and foreign investors. To streamline the investment process, a dedicated center has been established at Kabul Airport, serving as a one-stop hub for all relevant agencies. This center provides comprehensive services to foreign investors, businessmen, and experts collaborating with Afghanistan's private sector. Its primary function is to facilitate technical services and visa issuance for foreign investors and entrepreneurs. The launch of this center has streamlined the process for foreign investors and entrepreneurs to swiftly acquire visas and execute investment-related activities, facilitated by seamless cooperation with relevant government agencies.

Investment proposals from foreign investors and businessmen are presented to the Inter-ministerial Investment Committee under the Office of the Deputy PM for Economic Affairs. After undergoing preliminary processes at the airport center, these proposals are evaluated on technical, financial, legal, and economic grounds by the committee. Following a thorough assessment, the plans are forwarded to the Economic Commission for final approval. To date, the committee has reviewed and initiated practical work on dozens of investment proposals worth billions of Afghanis in infrastructure, electricity, transportation, industry, agriculture and other sectors.

The mission of the Inter-ministerial Investment Committee is to ensure effective coordination between investors and relevant ministries, enhancing speed and transparency in investment processes.

Notably, the streamlined procedures and facilities have led to dozens of foreign companies obtaining work permits and investing in infrastructure, electricity, transportation, industry, agriculture and other sectors across Afghanistan.



## The Islamic Emirate has initiated efforts to mechanize

# the agricultural sector

Agriculture plays a pivotal role in the economic stability of the country and is a significant driver of economic growth, accounting for one-third of the total value of the country's GDP.

A substantial portion of the nation's workforce is employed in agriculture, deriving their income from this sector. Additionally, the majority of the country's exports are agricultural products, which in 1402 SH amounted to approximately two billion dollars.

To enhance agricultural productivity, the Islamic Emirate is implementing strategic plans aimed at mechanization. These initiatives are expected to improve the quality and quantity of agricultural outputs, create employment opportunities, satisfy local demand, and boost export levels.

At the 30th Spring Exhibition of Agricultural Products, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, emphasized the ongoing collaboration with the Ministry of Agriculture to address deficiencies in the sector. He urged the adoption of mechanization and modern agricultural technologies.

Furthermore, the Deputy PM for Economic Affairs Office, with the assistance of Afghan experts, is developing the national development strategy. This strategy, pending approval by His Excellency Amir Ul Mo'mineen Sheikh Ul Hadith Hibatullah Akhundzadah, aims to mechanize agriculture and advance the industrialization of Afghanistan.

A secure environment has also been established for domestic and foreign investment in the agricultural sector. Efforts in water management have been prioritized, exemplified by the completion of the Pashdan Dam in Herat province.



South Asia through Afghanistan and Turkmenistan presents a significant opportunity. If this project is realized, it will allow Afghanistan to link with regional transport corridors, thereby facilitating smoother and more economical trade routes. For Kazakhstan, this new railway network will provide a direct, cost-effective route to South Asia, enabling the efficient delivery of its products and oil to these markets. The implementation of this project is poised to have a positive impact on the economic growth of both Afghanistan and Kazakhstan, fostering stronger trade relations and contributing to regional economic development.

## Conclusion

Connecting Afghanistan with regional and global markets is crucial for its economic development. Recognizing this, the Islamic Emirate aims to expand trade relations through land routes. Railways, as the most reliable and cost-effective land transport after sea routes, are particularly vital for landlocked countries like Afghanistan and many others in Asia. Consequently, the Islamic Emirate has initiated efforts to develop its railway infrastructure to facilitate trade with neighboring countries. A prime example is the Khaf-Herat railway, where construction on the second part of the fourth section commenced recently. If a new railway network is established from Kazakhstan to South Asia through Turkmenistan and Afghanistan, it will significantly enhance transit and trade capabilities for both Afghanistan and Kazakhstan. This project has the potential to strengthen the economies of both nations, fostering greater regional connectivity and economic growth.




actively striving to enhance their relations with Afghanistan. This effort is evidenced by the various delegations that have visited Afghanistan. On April 24, a delegation led by Kazakhstan's Deputy Prime Minister, Serik Zhumangarin, visited Kabul and met with Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund. During this meeting, discussions encompassed political, economic, commercial, and transit issues, including the proposal to extend a new railway network from Kazakhstan to Pakistan via Turkmenistan and Afghanistan. Deputy PM Mullah Baradar Akhund highlighted that the re-establishment of the Islamic Emirate has provided an opportunity to strengthen political and economic relations between Afghanistan and Kazakhstan. Deputy Prime Minister Serik Zhumangarin emphasized that extending the new railway network from Kazakhstan to Pakistan through Turkmenistan and Afghanistan would be more economical and shorter than other projects. This railway would facilitate connections between Central Asia and South Asia through Afghanistan, and link Afghanistan with China and Europe via Turkmenistan and Kazakhstan.

This initiative demonstrates Kazakhstan's intent to deepen economic relations alongside political ones. The proposed railway extension would offer Kazakhstan the shortest route for its exports, thereby significantly enhancing its trade capabilities.

## The Value of Extending the New Railway Network

Afghanistan, being a landlocked country, faces significant challenges in accessing international markets. In Asia, railway transport is recognized as one of the most efficient, safest, and cost-effective modes of transportation. Rapid trade growth necessitates efficient access to regional and global markets, which can be best achieved through an extensive railway network. Acknowledging this, the Islamic Emirate of Afghanistan has prioritized the development of its railway sector alongside other infrastructural projects, implementing several initiatives and planning more for the future. Connecting Afghanistan to regional and global railway networks will greatly enhance its trade capabilities and stimulate economic growth. This connectivity will also enable Asian countries to efficiently transport their products to each other and to international markets. The recent proposal from Kazakhstan to extend a new railway network to



## Introduction

Afghanistan's strategic geographical location positions it as a vital economic hub for trade and transit between Central Asia and South Asia. Historically, Afghanistan has had immense potential to serve as a bridge connecting these regions. However, persistent political and security instability had consistently hampered its economic interactions and trade relations with neighboring countries. With the re-establishment of the Islamic Emirate, overall security in Afghanistan has significantly improved. Stability in security is a crucial prerequisite for thriving business and economic activities. This newfound stability presents an opportunity not only for Afghanistan but also for its regional neighbors to enhance their economic engagements and find new markets for their products. One country that stands to benefit from this stability is Kazakhstan. Recently, a delegation led by the Deputy Prime Minister of Kazakhstan engaged in discussions regarding the extension of a new railway network linking Kazakhstan and Afghanistan. This proposed railway network would traverse through Turkmenistan and Afghanistan, ultimately connecting to South Asia. In this article, we will examine the evolving relationship between Afghanistan and Kazakhstan and evaluate the potential benefits of extending this new railway network.

## Relations between Afghanistan and Kazakhstan

The economic opportunities between Afghanistan and Central Asian countries serve as a foundation for developing robust bilateral relations. Afghanistan aims to leverage its geographical position as a bridge connecting Central Asia to South Asia, thereby creating markets for its mineral, agricultural, and industrial products. Similarly, the Central Asian nations, encompassing nearly four million square kilometers rich in oil, gas, iron, copper, gold, lead, uranium, aluminum, precious stones, and other natural resources, seek to deliver these commodities to global markets. For these countries to capitalize on such opportunities, it is crucial to expand and fortify their relations, with political ties serving as the cornerstone that bolsters economic engagements.

Central Asian countries, particularly Kazakhstan, are




## Exploring the Benefits of Extending

# a New Railway Network

### from Kazakhstan through Afghanistan and Turkmenistan to South Asia

***Author:*** *Fazal Wali Sherani*

The new railway network runs from Kazakhstan to South Asia via Turkmenistan and Afghanistan. In this article we will look at the relationship between Afghanistan and Kazakhstan and the importance of expanding the new railway network.



| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi and Fazal Wali Shirani |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **Deputy Chief Editor:** | Ahmad Shah Rashed |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojournalist:** | Sayed Ashrat Rahmati |
| **Printing Press:** | Baheer Printing Press |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

Phone: 0202107500

Email: media@dpmea.gov.af

Website: dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**